**د خپلواکۍ اصلي مانا**



له شکه پرته موږ په لبنان یا له لبنان ور ها خوا په بله اسلامي خاوره کې د کفر ښکېلاکي نظامي واک نه خوښوو. د فرانسې، برتانیې او امریکا تر منځ چې اسلامي خاورې یې تر مستقیم یا غیر مستقیم اغېز او ولکې لاندې دي؛ هیڅ توپیر نشته. بیا هم لاندې پېښو ته اشاره کوو:

ـ خپلواکي دا مانا، چې موږ ښکېلاکګر ځواک ته اجازه ورنه کړو، ترڅو مو سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او کلتوري نظامونه تر خپل اغېز لاندې راولي. د دغو نظامونو له کره کتنې وروسته موږ دې پایلې ته ورسېدو، چې نوموړي نظامونه پر موږ تپل شوي دي او د یو دولت په څېر د لبنان منځ ته راتګ او له اسلامي دولت څخه یې بېلتون د ښکېلاکګر دښمن چل و. له ۱۹۲۰م کال څخه وړاندې او مخکې له دې چې د فرانسې پوځي جنرال «ګوارډ» د لبنان د دولت د تاسیس اعلان وکړي؛ لبنان د عثماني خلافت یو ولایت و. د بیروت ولایت نږدې ۳۰۰۰۰کیلومتره مربع مساحت درلود او د حایفه، عکا، تریپولي او لاتیکیا سیمې یې په بر کې نیولې.

د لبنان اوسنی دولتي نظام د فرانسې له سل کلن زوړ اساسي قانون څخه اخیستل شوی دی، چې په بشپړ ډول د انسان په لاس جوړ شوی نظام دی.

تعلیمي ډګر له ښکېلاکي کلتور څخه ډېر ژور اغېزمن شوی ، ان تر دې چې کیمیا، فزیک او مثلثات په فرانسوي ژبه تدریسېږي.

اوس هم د ښکېلاګر ځواک اغېز په حاکم سیاسي نظام کې په پیاوړې توګه تر سترګو کېږي، ان ځینې په دې اند دي چې فرانسه د لبنان مور او د دې نظام سمبالونکې ده. دغه راز د برتانیې او امریکا په څېر نور ښکېلاکګر ځواکونه د لبنان پر سیاسي، اقتصادي او امنیتي برخو ښکاره اغېز لري.

لبنان تر اوسه د یو دولت په توګه ځان نه دی ثابت کړی، ځکه چې د نظام جوړونې له اساسي عناصرو څخه بې برخې دی. له کوم وخته چې د لبنان دولت خپله آزادي اعلان کړې ده، له هماغه راهیسې ډلې او ډلبازۍ شروع شوي او په خپلو مینځونو کې سره په جګړه اخته د ي او ژور اختلافات لري. پر دې سربېره د لبنان دولت د خلکو د اساسي اړتیاوو، لکه: برېښنا، اوبو، سړکونو او داسې

نورو په پوره کولو کې پاتې راغلی دی او بله لا دا چې دولت شاوخوا ۱۰۰ ميلیارده ډالر پوروړی دی. فساد په ګڼو اداراتو کې خپلې ريښې ځغلولې دي. که په لنډ ډول ووايو، د لبنان اوسنی اقتصادي نظام په بنسټيز ډول له فساده ډک او پر فاسد پانګوال نظام ولاړ دی. دولت د مهمو برخو، لکه: کارخانو او کرهنې پر ځای خپله ټوله پاملرنه سود او سیاحت ته اړولې. حال دا چې سود د الله تعالی د نارضايتۍ سبب ګرځي.

فرانسې د لبنان ډېری وګړي هغوی ته د آزادۍ د اعلامېې پر بنسټ سره وېشلي وو، ګڼو مسلمانانو، دروز(يوه سياسي او فقهي ډله) او عيسويانو نوموړې اعلاميه ردوله او غوښتل يې چې دوی دې له شام سره يوځای شي.

کله او څه ډول ريښتينې آزادي ترلاسه کولی شو؟

آزادي هغه وخت ترلاسه کېږي، چې په خپل هيواد کې غربې نفوذ ته د پای ټکی کېږدو، هغوی ته اجازه ورنه کړو، چې زموږ په چارو کې لاسوهنه وکړي، د هغوی په لاسونو راکښل شوي سرحدونه له منځه يوسو، د هغوی فاسد اساسي قانون رد کړو او خپل تعليمي نظام د هغوی له اغېزه پاک کړو.

خپلواکي هغه وخت ترلاسه کېږي، چې موږ يو ځلې بيا خپل پخواني اصل ته ستانه شو، د ستر امت يوه برخه شو، د يوه پراخ دولت هغه برخه شو چې تر اوږدې مودې د نړۍ پياوړی او لارښود ځواک و. بيا نو پرته له دې چې د خلکو مذهب او قوم په پام کې ونيسو، د هغوی روغتيايي، تعليمي او اقتصادي ستونزې حلولی شو. بيا نو هيواد له درنو قرضونو څخه خلاصولی شو، فساد او غلاوې له منځه وړلی شو. پرته له دې چې د چا قوم او مذهب په پام کې ونيسي برېښنا او عام المنفعه چارې به يې ډاډمنې کړي، ټولو ته به په مساوي سترګه کتل کېږي، د عرب او غيرعرب تر منځ به توپير نه وي، خو د توپير معيار به يوازې او يوازې تقوا وي.

خپلواکي هغه وخت ترلاسه کېږي، چې په واقعيت پوه شو او ګډ کار وړکړو، ترڅو لبنان بېرته خپل پخواني اصل ته ور وګرځي يانې له شام سره يې يو ځای کړو. ټيکاو او نيکمرغې يوازې هغه وخت ترلاسه کېدای شي، چې د نبوت پر طريقه راشده خلافت رامنځته کړو. خلافت به د الله سبحانه و تعالی حکمونه پلي کوي، فساد او د فساد ريښې به له منځه وړي، هغه ورځ د الله د مهربانۍ لمخې نږدې ده او په هماغه ورځ به د غرب او د هغوی د لاسپوڅو واکمنانو او سياستوالو د شر له خلاصون څخه او له خپلواکۍ څخه خوند واخلو. خلک به د هغه نړيوال رامنځته کېدونکي اسلامي دولت د بيا تاسيس لمانځنه کوي، چې د اندونيزيا له ختيځه نيولې بيا په غرب کې تر مراکش پورې پراختيا لري.

**د حزب التحرير- ولايه لبنان مطبوعاتي دفتر**

**ليکوال: شيخ ډاکټر محمد ابراهيم**

**۲۰۱۸م، د نومبر ۲۳مه**

**۱۴۴۰هـ.ق، د ربيع الاول ۱۳مه**

**ژباړن: جميل احمد**